د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 26 جون، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 10 مُحَرَّم شریف، کال 1448ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پهٔ نوم

# د گَربَلَا نه میلاؤیدونکے یو سبق

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اخرئ عمره ادا کړه
- زمکې او اسمان وژړل، د وینو باران وشو
- د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یو خط
- د کامیاب ژوند د پاره درې اعمال

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۠ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ۠

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۠ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۠

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم:

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ حِيْنَ يُصْبِحُ عَشْرًا وَحِيْنَ يُمْسِيْ عَشْرًا اَدْرَكَتْهُ شَفَاعَتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ۔

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: چا چې په ما باندې سحر او ماښام 10، 10 کرته دُرُود شریف ولوستو هغه ته به د قیامت په ورځ زما شفاعت میلاؤیږي۔ **(1)**

کہیں گے اور نبی اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِىْ | مِرے حُضُور کے لَب پر اَنَا لَهَا ہو گا[2]

**وضاحت**: د قیامت په ورځ باندې چې به کله د مختلفو انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام په خِدمت کښې خلق د شفاعت د سوال کولو د پاره حاضریږي نو ټول نبیان عَلَيهِمُ السَّلام به فرمائي:

---

[1]... مجمع الزوائد، کتاب الاذکار، باب ما یقول اذا اصبح واذا امسی، جلد:10، صفحه:120، حدیث:17022۔

[2]... ذوقِ نعت، صفحه:54۔

اِذْهَبُوْا اِلٰی غَیْرِیْ يعني د بل چا خوا له لاړ شئ! خو كله چې به خلق دربار رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شي نو خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرمائي: اَنَا لَهَا، اَنَا لَهَا د دې كار (يعنې د شفاعت) د پاره هُم زهٔ يم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْكَرِيْم (الله پاک پهٔ قرآنِ كريم كښې فرمائي):

اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِیَّةِ یَبْغُوْنَ ؕ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ یُّوْقِنُوْنَ ۟

(پاره: 6، سورۃ المآئدۃ: 50)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صلّى الله عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: نو آيا دوئي د جاهليت حُكم غواړي، او يقين لرونكو د پاره د الله د حُكم نه بهتر د چا حُكم كيدے شي؟-

| | |
|---|---|
| باغِ جنّت کے ہیں بہرِ مَدح خوانِ اَہلِ بیت | تم کو مژدہ نار کا اے دشمنانِ اَہلِ بیت! |
| ان کی پاکی کا خُدائے پاک کرتا ہے بیاں | آیۂ تطہیر سے ظاہِر ہے شانِ اَہلِ بیت |
| اُن کے گھر میں بے اجازت جبرئیل آتے نہیں | قدر والے جانتے ہیں قدر و شانِ اَہلِ بیت |
| کس شَقی کی ہے حکومت ہائے کیا اندھیر ہے | دِن دِہاڑے لُٹ رہا ہے کاروانِ اَہلِ بیت |

گھر لُٹانا جان دینا کوئی تجھ سے سیکھ جائے | جانِ عالَم ہو فدا اے خاندانِ اَہلِ بیت![1]

**وضاحت:** د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د شان بیانوونکو قِسمت جَنَّت دے او اے د اهلِ بیتو دښمنانو! ستاسو د پاره وور دے، الله پاک پهٔ آیهٔ تطهیر (اِنَّمَا یُرِیۡدُ اللّٰہُ لِیُذۡهِبَ عَنۡکُمُ الرِّجۡسَ اَهۡلَ الۡبَیۡتِ وَ یُطَهِّرَکُمۡ تَطۡهِیۡرًا ۚ) کښې د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم شان او پاکي بیان کړې ده او حضرت جبرائیل عَلَیۡہِ السَّلَام هم د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم کور ته بغیر د اِجازت نه نهٔ داخلیږي ځکه چې عزتمند د اهلِ بیتو د عظمت نه خبر دي، دا د کوم بد بخته حکومت دے؟ دا څهٔ ظلم دے؟ چې پهٔ رڼا ورځ د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم قافله لوټلے کیږي، د حق پهٔ لاره کښې خپل ځان قربانول او خپل هر څهٔ قربانول دې خلق ستاسو نه زده کړي اے د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم کورنۍ! پهٔ تاسو باندې دې د ټول عالَم ځان قربان شي۔

## اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ اخرۍ عمره اوکړه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د 61 هجرۍ واقعه ده، یزید بد بخته د سلطنت تخت قبضه کړو، هغهٔ د اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه د بیعت مطالبه اوکړه، هغوئي بیعت اونکړو او مدینه منوره یې پریښودله او مکے مکرمې ته یې تشریف یوړلو۔ عبد الله بن سُلیم اَسَدِي وائي: مونږ د حج کولو د پاره د کوفې نه مکے مکرمې ته حاضر شو، د څاښت وخت وو، ما ولیدل چې اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ او حضرت عبد الله بن زبیر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما د کعبې د دروازې خوا ته ولاړ دي او خبرې کوي، حضرت عبد الله بن زبیر رَضِیَ اللّٰہُ

---

[1] ... ذوقِ نعت، صفحه:103101100 ملتقطاً۔

عَنْهما عرض اوکړو: اے اِمامه! تاسو دلته پاتې شئ! مونږ به ستاسو بيعت اوکړو- اِمامِ عالي مقام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمائيل: زما والدِ محترم (مولیٰ علي، شيرِ خُدا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) ما ته حديث بيان کړے وو چې يو ګډ به وي هغه به د کعبې د حُرمت سپکاوے کوي، هغه به دلته قتلولے شي- زۀ پۀ دې ځائے کښې پۀ پاتې کيدو هُغه ګډ جوړيدل نۀ غواړم-

مطلب دا وو چې زما شهادت خو تاکلے شوے دے، چې دلته پۀ مکه مکرمه کښې پاتې کيږم، نو بيا خو هم شهيد کيدل دي، نقصان به دا وي چې يزيد بد بخته به زما پۀ دښمنۍ کښې د مکے مکرمې هم بے حرمتي وکړي- ځکه ما ته تلل پکار دي- د دې نه پس دې دواړو پۀ ورو ورو خبرې کولې- د دې پورې چې د ماسپښين وخت رانزدې شو- د دې نه پس اِمامِ عالي مقام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ طواف اوکړو، د صفا او مروَه سعي يے اوکړه، ويښتۀ يے وخريل، عمره يے مکمل کړه او بيا يے د کوفې سفر شروع کړو- [(1)]

## زۀ د خُدائے پۀ فيصله باندې راضي يم

**پۀ روايتونو کښې دي:** فَرزَدَق کوم چې د عربو مشهور شاعِر وو، پۀ لار کښې د هغۀ د اِمامِ عالي مقام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره ملاقات وشو، اِمامِ عالي مقام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ترې پوښتنه اوکړه: پۀ کوفه کښې د خلقو څۀ حالت دے؟ فَرزَدَق ووئيل: د خلقو زړونه ستاسو سره دي خو تورې يے د يزيد سره دي، د اسمان نه فيصلې نازلې شوې دي، کيږي به هُغه څۀ کوم چې الله پاک غواړي-

---

[1]... تاريخ طبری، النسة الستون، ذکر ذکر مسير الحسين الی الکوفة، جلد:3، صفحه:295 ملتقطًا۔

پۀ دې اوریدو اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وفرمائیل: فَرزَدَقه! تا رښتیا ووئیل، حُکم مخکښې هم د الله پاک وو، بیا به هم د الله پاک وي- څۀ چې الله پاک غواړي هم هغه کیږي، هره ورځ زمونږ د رَبّ نوي شانونه دي- که د خُدائے فیصله هُغه وي کومه چې مونږ غواړو، بیا مونږ د هغۀ پۀ نعمت د هغۀ حمد کوو، هغه د شُکر توفیق عطا کوي او که د الله پاک فیصله څۀ بَل څۀ وي نو بیا هم چې د چا نیت صحیح وي، څوک چې پۀ حق پسې روان وي، څوک چې (صرف د خلقو پۀ مخکښې نۀ بلکې) پۀ تنهایۍ کښې هم تقویٰ اِختیاروونکے وي، هغه سرکشي نۀ کوي (د الله پاک فیصلو ته سر ټیټوي)- دا یې وفرمائیل او اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د کوفې طرف ته روان شو- (1)

پۀ لار کښې د یزید فوځ د هغوئي لار ونیوله، داسې هغوئي کربلا ته ورسیدلو، بیا د تقدیر لیک پوره شو، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خپلو 72 وفادارو ملګرو سره، پۀ 10 مُحَرَّم کال 61 هجرۍ ◈ د کربلا پۀ میدان کښې د یزید پلید خلاف، د حق اواز پۀ پورته کولو ◈ د خپل نیکه بابا جان د دِین پۀ څوکیدارۍ کولو ◈ پۀ ظلم زغملو ◈ د درد او د غم د غر پۀ مخکښې پۀ ثابت قدم پاتې کیدو ◈ ډیر پۀ عزت سره ◈ بهادرۍ سره ◈ شان او شوکت سره شهید شو او ◈ د همیشه د پاره د باطِل خِلاف د ودریدو ◈ پۀ حق باندې د تللو ◈ د دینداري ◈ د عزت د ژوند ◈ د عزت د مرګ ◈ د مړانې ◈ د بهادرۍ ◈ د اِستقامت او ◈ د صبر او د رضا سبق یې ورکړو-

---

1... تاریخ طبری،ذکر ذکر مسیر الحسین الی الکوفة، جلد:3، صفحه:296-

حُسَیْن ایک علامت ہے زِندگی کے لئے | حُسَیْن عَزمِ سَفر ہے مُسَافِری کے لئے

يو بَل شاعر وئيلي دي:

فِطرَت کی مصلحت کا اشارہ حُسَیْن ہے | قربانیوں کی آنکھ کا تارا حُسَیْن ہے
وہ اس لئے لڑے کہ سِتم کو مِٹا سکیں | پھر کیوں نہ ہم کہیں کہ ہمارا حُسَیْن ہے

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیب ! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## زمکې او اسمانونو وژړل، د وينې باران وشو

علامه اِبنِ حَجر مکي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ذِکر کوي: چې کله حضرت اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شهيد کړے شو نو نمر تندر ونيولو، اسمان سُر شو، د دريو ورځو پورې په دنيا تياره خوره وه،د دې پورې چې د ورځې ستورې په نظر راتلل، د ډيرو ورځو پورې د اسمان نه وينې څڅيدلې، د دې په اثر سره ديوالونه او ودانۍ رنګ شوې، چې کومه کپړه به په هغې رنګ شوه، د هغې سُر والے به د ټوټې ټوټې کيدو پورې نه تلو، په شام کښې چې به کوم کاڼے په هٔغه ورځ اوچتولے کيدو د هغې نه لاندې به تازه وينه را وتله، د دې حال ليدو سره د خلقو ګُمان شو چې کيدے شي قيامت راغلے وي - (1)

[1] ...الصواعق المحرقة، الباب الحادی عشر، فی فضائل اہل البیت، صفحه:241240۔

| | |
|---|---|
| ہزاروں میں بہتّر (72) تَن تھے تسلیم و رضا والے | حقیقت میں خُدا ان کا تھا اور یہ تھے خدا والے |
| کسی نے جب وطن پوچھا تو حضرت نے یہ فرمایا: | مدینے والے کہلاتے تھے، اب ہیں کربلا والے |
| حسین ابن علی کی کیا مدد کر سکتا تھا کوئی | یہ خود مشکل کُشا تھے اور تھے مشکل کُشا والے |
| دوائے دَرْدِ عصیاں پنج تن کے در سے ملتی ہے | زمانے میں یہی مشہور ہیں دارُالشفا والے |

## اهل کربلا د رضا طلبګار وو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ◈ کربلا يو حقيقت دے ◈ يوه دردناکه پيښه ◈ د صبر ◈ د اِستقامت ◈ د برداشت ◈ د ځان قربانولو ◈ د الله پاک پۀ رضا باندې د راضي کيدو او ◈ پۀ حق باندې د ثابت قدم پاتې کيدو زبردسته واقعه ده- عارف کھړي شريف ميا محمد بخش رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

ہُونْدِی قُوَّت زَور نہ لایا، بَیٹھے مَن رَضَائیں
پَانی بَاجھ پِیَاسَے چلّے، دِین دُنِی دے سائیں

وضاحت: يعنې اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه چا نمسے دے، څوک چې د اسمان طرف ته مخ مبارک کړي نو رَبّ قبله بدلوي، که هغوئي غوښتلے نو پۀ کربلا کښې څۀ نشو کيدے، که غوښتلے نو يزيديان به اِيره شوي وو خو هغوئي د طاقت لرلو باوجود هم زور وه نۀ لګولو، ولې؟ د الله پاک رضا مقصود وه، الله پاک چې کوم تقدير ليکلے وو، پۀ هغې باندې يې راضي اوسيدل غوښتل، حالانکې هغوئي د دِين او د دُنيا سردار دے،

بیا هم پهٔ تنده برداشت کولو کولو د دُنیا نه رُخصت شو-

## د کربلا د ټولو نه اَهم جهت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! یقیناً چې کربلا ډیره غمژنه او زړهٔ بوږنوونکې واقعه ده ◈ د کربلا پهٔ واقعه کښې د خپلو وفاګانې هم دي او د یزیدیانو جفاګانې هم دي ◈ پهٔ کربلا کښې د صبر اِنتها هم ده، پهٔ دې کښې زمونږ د پاره ډیر سبقونه موجود دي خو مونږ دا وئیلے شو چې کربلا کوم څیز کربلا جوړه کړې ده، یعني دې پېښې له چې کوم یو څیز اهمیت ورکړے دے، هغه د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ د یزید خِلاف موقف[دریز] وو- نن پهٔ دې خبره باندې د ځان پوهه کولو ضرورت دے چې ◈ اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ د فُرات پهٔ غاړه هم تنده برداشت کړه ◈ د یزیدیانو جفاګانې یـې هم ولیدلې ◈ د بد بختو یزیدیانو د سپکاوي جملې یـې هم واوریدلې ◈ د حضرت علي اَکبر نه واخله د حضرت علي اَصغر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهما پورې یـې خپل شهزادګان هم قربان کړل ◈ د خپلو وروڼو پهٔ وینو رنګ مړهٔ وجودونه یـې هم پهٔ خپلو لاسونو اوچت کړل ◈ د خپلو وفادارانو قرباني یـې هم ولیدلې ◈ د حضرت عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ پریکړے شوې مَټې یـې هم ولیدلې ◈ غرض دا چې هُغه کوم یو درد وو، هُغه کوم یو غم وو کوم چې د کربلا پهٔ میدان کښې د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ پهٔ زړهٔ باندې تیر نهٔ شو؟ ټول ظلمونه یـې برداشت کړل، ټول غمونه یـې پهٔ زړهٔ باندې تیر کړل، سوال دا دے چې دا هر څهٔ اخر ولې کولے شول، اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ که چرې د یزید خبره منلے وے نو دولت به ورته هم میلاؤ شوے وے، پهٔ ظاهري توګه به ورته عزت هم میلاؤ شوے وے، هر څهٔ به کیدل، د دې باوجود هغوئي

دُنيا له لَته ورکړه او قرباني يــې قبولې کړې، اخر د دې هر څۀ پۀ شا د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سوچ څۀ وو، ذِهن څۀ وو؟ د یزید خِلاف د هغوئي موقف [دریز] څۀ وو؟ پۀ دې موقف باندې نن د ځان پوهه کولو ضرورت دے۔

## د آیت مبارک مختصر وضاحت

مونږ د بیان پۀ شروع کښې د 6 سیپارې، د سورۀ مائده د آیت: 50 د اوریدو سعادت حاصل کړو، د دې آیت مبارک پۀ رڼا کښې د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ موقف صفا واضحه کیږي، د حضرت اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د مکے مکرمې نه د روانیدو نه د کربلا پۀ میدان کښې د 10 مُحَرَّم د سحره پورې چې يــې کومې خطبې ورکړې، کوم څۀ يــې اِرشاد کړل، هغه هر څۀ د دې آیت مبارک ګویا چې وضاحت وو، آیت څۀ دے؟ واورئ! بیا به د دې آیت مبارک پۀ رڼا کښې مونږ د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پۀ موقف باندې د ځان پوهه کولو کوشش کوو۔ الله پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ؕ<br>(پارہ:6، سورۂ المآئدۃ: 50) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو آیا دوئي د جاهلیت حُکم غواړي۔ |

دا د هغه وخت د غیر مسلمو بني اِسرائیلو پۀ باره کښې اِرشاد شول، **پۀ روایتونو کښې دي:** یو ځل د بني اِسرائیلو لوئي لوئي عالِمان راجمع شول او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې حاضر شول، عرض يــې اوکړو: اے مُحَمَّده (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) تاسو ته معلومه ده چې مونږ د بني اِسرائیلو عالِمان یو، که چرې مونږ کلمه

ووئیله نو زمونږ ټول قوم به کلمه ووائي، مونږ اِسلام قبلولو ته تیار یو بس یو شرط دے، د فلانکی قبیلې او زمونږ ترمینځه جګړه ده، مونږ د دې جګړې فیصله په تاسو باندې کوو، تاسو زمونږ په حق کښې فیصله اوکړئ، مونږ به کلمه ووایو او مسلمانان به شو- په دې باندې د سورۀ مائده آیت: 49 او 50 نازل شو، اللہ پاک د قیامته پورې چې به څومره هم اِسلامي حکمرانان وي، د اِسلام په تخت باندې ناست واکداران وي، هُغه ټولو ته دا حُکم اوکړو: [1]

وَ اَنِ احْكُمْ بَیْنَهُمْ بِمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَ لَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ (پارہ: 6، سورۂ المآئدۃ: 49)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او (اے مسلمانه!) دا چې د هغوئي په مینځ کښې د هغې مطابق فیصله اوکړه څهٔ چې اللہ نازل کړي دي او د هغوئي په خواهشاتو پسې مهٔ ځه-

یعني یو اِسلامي حکمران له چې څومره هم فیصلې کول دي، د هغې بنیاد به خواهشات نهٔ وي، په اِسلامي تخت باندې د کیناستونکي د پاره دا لازم دي چې هغه به قرآن خپل معیار جوړوي، هغه به د قرآن په تعلیماتو باندې عمل کوي، د هغې مطابق به ټول اُصُول او قوانین جوړوي، هم د قرآنِ پاک تعلیمات به په معاشره کښې نافذ کوي- د دې حُکم کولو نه پس یې وفرمائیل:

اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِیَّةِ یَبْغُوْنَ ؕ (پارہ: 6، سورۂ المآئدۃ: 50)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو آیا دوئي د جاهلیت حُکم غواړي-

---

[1]... تفسیر ابن ابی حاتم، پارہ: 6، سورۂ مائدۃ، زیرِ آیت: 50، جلد: 3، صفحہ: 219، حدیث: 6533۔

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا چې كوم د بني اِسرائيلو نامتو، لوئي لوئي عالِمان ستاسو په خِدمت كښې حاضر شوي دي، دوئي څۀ غواړي؟ آيا دوئي غواړي چې بيا د جهالت د تيارو طرف ته لاړ شي ؟

داسې چرې هم نشي كيدے---!! يو وخت وو چې په دُنيا باندې د جهالت تيارې راخورې وې ◈ اوس اِسلام تشريف راوړے، شپه تيره شوې ، نمر راختلے ◈ اوس د اِسلام نُور خور شوے دے ◈ اوس به بيا د جهالت د تيارو طرف ته واپس نشي تللے ◈ اوس چې به كوم دستور نافذ كيږي ◈ اوس چې به چې كوم قانون جوړيږي، چې كومې فيصلې به كولے شي ◈ د هغې بنياد به د اِسلام په نُور باندې ◈ د قرآنِ پاک په تعليماتو باندې ايښودلے شي ◈ د جهالت په رسم او رواج باندې به نۀ ايښودلے كيږي-

بيا يې وفرمائيل:

وَ مَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ۠ (٥٠) (پارہ: 6، سورۃالمآئدۃ: 50)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او يقين لرونكو د پاره د الله د حُكم نه بهتر د چا حُكم كيدے شي؟-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې په دې آيت كښې څومره په ښكلي انداز كښې د يو اِسلامي حكمران بنيادي ذمه واری بيان كړے شوې دي، دا وفرمائيلے شو چې د يو اِسلامي سلطنت حكمران ټولې فيصلې په خپل خواهش باندې نۀ، په رسم او رواج باندې نۀ بلكې د الله پاک د پاک كلام قرآنِ كريم په رڼا كښې كولے شي-

## د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ واضحه موقف

د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ د یزید سره هم دا بُنیادي اِختلاف وو، یزید پهٔ تخت باندې ناست وو، هغه قبضه کړې وه خو ◈ هغه پخپله فاسِق وو ◈ بے نـمانځه وو ◈ شرابي وو ◈ بدکار او بد کردار وو ◈ د رحمان تابعداري يې پرېښې وه او پهٔ شیطان پسې تلونکے وو ◈ فساد خوروونکے وو ◈ د الله پاک حُکمونه ماتوونکے وو ◈ د الله پاک حلال کړے شوي څيزونه به يې حرام او حرام کړے شوي څيزونه به يې حلال ګرځول ❁ د سُنَّتو بدلوونکے ❁ د سُنَّت خِلاف کارونه شروع کوونکے وو ◈ دې بد بخته پخپله هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّتو باندې عمل نهٔ کولو ◈ او نور خلق به يې هم د سُنَّت خلاف پهٔ کارونو باندې راپارول ◈ د هغهٔ د زړهٔ ترون، د هغهٔ د طبیعت رُجحان د اِسلام طرف ته نهٔ بلکې د نفس د خواهشاتو طرف ته وو ◈ هغه د اِسلام د نُور د راتلو نه پس بیا زمانه د جهالت تیارو ته غورځول غوښتل.

هم دا د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ د هغهٔ سره اِختلاف وو، هُم پهٔ دې وجه هغوئي د هغهٔ خِلاف ودریدو، څکه هغوئي د هغهٔ بیعت اونکړو، څکه هغوئي کربلا ته تشریف راوړلو او د معاشرې د جهالت د تیارو نه د بچ کولو د پاره، پهٔ اِسلامي نُور کښې د ساتلو د پاره هغوئي ټول ظلمونه برداشت کړل او اخر يې د شهادت مرتبه حاصله کړه۔

## د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ یو خط

اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ پهٔ ډېرو ځایونو کښې د خپل دې واضحه موقف اِعلان اوکړو۔ یو ځل هغوئي د بصرې ځینو سردارانو ته خط ولیکلو، هغوئي وفرمائیل: اَنَا اَدۡعُوۡکُمۡ اِلٰی کِتَابِ

اللهِ وَ سُنَّةِ نَبِيِّهٖ اے خلقو! زۀ تاسو د الله پاک د کتاب او د هغۀ د نبي د سُنَّتو طرف ته رابلم- فَاِنَّ السُّنَّةَ قَدْ اُمِيْتَتْ وَاِنَّ الْبِدْعَةَ قَدْ اُحْيِيَتْ بے شکه سُنَّت روان دي مړه کيږي او بدعتونه (يعني د جهالت والا ګمراهئ) نه رواج جوړيږي- (1)

کله چې اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ د کربلا د ميدان طرف ته تشريف وړلو، پۀ لاره کښې پۀ يو ځائے کښې هغوئي خطبه ورکړه او وه يې فرمائيل: اے خلقو! رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه څوک چې داسي حکمران ووينې ◈ چې ظُلم کوي ◈ د الله پاک حرام کړے شوي څيزونه حلال ګرځوي ◈ د الله پاک وعده ماتوي ◈ د سُنَّتو مخالفت کوي ◈ پۀ خلقو کښې ګناهونه او ظلم او زياتے رواج جوړوي، ليدونکے که داسې ظالِم د بدو کارونو نه پۀ لاس منع نۀ کړي، نۀ يې پۀ خُله منع کړي، نو پۀ الله پاک باندې حق دے چې هُغه (ليدونکے) د هُغه (ظالِم) سره وساتي- خلقو! واورئ--!! بے شکه دې يزيديانو ◈ د شيطان تابعداري لازمي ونيوله ◈ د رحمان تابعداري يې پريښودله ◈ پۀ خلقو کښې يې فساد خور کړو ◈ د الله پاک حدونه يې مات کړل ◈ د الله پاک حرام کړے شوي څيزونه يې حلال او ◈ حلال کړے شوي څيزونه يې حرام وګرځول او زۀ د دې خبرې ډير حق لرم چې د داسې ظالِم پۀ مخکښې د حق اواز پورته کړم- (2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا وو د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ واضحه موقف --- هغوئي

---

[1]... البداية والنهاية، السنة السنتين للهجرة، قصة الحسين بن على وسبب ...الخ، جلد:4، جز:8، صفحه:554553-

[2]... تاريخ طبرى، السنة الحادى والستون، ذكر الخبر عما كان فيها...الخ، جلد:3، صفحه:307306 خلاصةً-

فرمائیل: ◈ یزید جهالت خوروي ◈ د اِسلام نُور ختمول غواړي ◈ شیطاني کارونو له رواج ورکول غواړي ◈ معاشره، مسلمان اُمت د الله پاک د کتاب [قرآنِ کریم] نه لرې کول او د جهالت تیارو ته غورځول غواړي خو قرآنِ کریم د یو اِسلامي حکمران د پاره دا واضحه قانون ښودلے شوے دے چې یو اِسلامي حکمران صرف او صرف د الله پاک د کتاب مطابق فیصلې کولے شي، د دې نه اخوا کیدے نشي- ځکه به د هغهٔ بیعت نهٔ کیږي-

## د کربلا د ټولو نه بُنیادي سبق

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا د کربلا د ټولو نه بنیادي سبق دے چې مونږ چې کوم مسلمانان یو، د رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کلمه ویونکي یو ◈ زمونږ د طور طریقو معیار ◈ زمونږ د ژوند د انداز معیار ◈ زمونږ د اوسیدو معیار ◈ زمونږ د لیک لوست معیار ◈ زمونږ د معاشي معاملو معیار ◈ زمونږ د ګټلو معیار غرض دا چې زمونږ د ژوند د هر ساعت معیار د الله پاک قُرآن او د اِسلام نُور دے، د جهالت رَسم او رواج نهٔ دے-

لکه څنګه چې اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اُمت د جهالت د تیارو نه د بچ کولو د پاره د پوره طاقت سره ودریدو، ثابت قدمي یې وښودله، کربلا ته ورسیدو، ظلم یې برداشت کړو، شهید شو او یزیدیت یې د خاورو سره خاورې کړو، دغه شان د هر رښتوني، پوخ حُسَیني دا وړومبے حق، د ټولو نه لویه ذمه واري ده چې پهٔ خپل ژوند کښې، پهٔ خپل کور کښې، پهٔ خپله محله کښې، پهٔ خپله معاشره کښې د جهالت تیارې هیڅکله هم خوریدو ته نهٔ پریږدي-

## مونږ او د جهالت تيارې

خو افسوس چې دا هم لويه مسئله جوړه شوې ده چې خلقو د کربلا نه صرف يو رسم جوړ کړے دے- هغه موقف د کوم په بنياد چې اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دومره لويه قرباني ورکړې وه، افسوس چې هغه موقف اوس مونږ ته ياد نۀ دے، افسوس چې هغه د جهالت تيارې د کومو د ختمولو د پاره چې اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د کربلا خاوره په خپلو وينو رنګ کړې وه، اوس هغه تيارو زمونږ په معاشره کښې ځائے جوړ کړے دے ◈ د جهالت په زمانه کښې شراب عام وو، دا بيماري اوس هم زمونږ په معاشره کښې عامه کيږي ◈ د جهالت په زمانه کښې بد کاري عامه وه، زمونږ په معاشره کښې هم دا روانه ده زياتيږي ◈ بے حيائي د جهالت په زمانه کښې ډير لوئي عيب وو، اوس دا عيب زمونږ په معاشره کښې هم د پوره قوت سره خور شوے دے ◈ کنځلې د جهالت د دور تياره ده، زمونږ په معاشره کښې هم عامې دي ◈ مور او پلار تنګول د جهالت د وخت تياره ده، زمونږ په معاشره کښې هم د اولډ هاؤس (***Old House***) رواج زياتيږي ◈ تعلق پريښودل (يعنې خپلولي پريښودل) بلکې د خپلوانو سره جګړې کول، غصې کول، د حَسَد، بُغض په وجه د هغوئي سره جګړې کول د جهالت د وخت تيارې وي ، نن کوم يو کور دے چرته چې جګړې نشته، ورور د ورور دښمن دے، د چا د کشر ترۀ سره نۀ لګي، څوک د مشر ترۀ نه خفه دے، د چا د پلار د طرفه د ترور نه نفرت دے، څوک د مور د طرفه د ترور نه بيزاره دے ◈ د طاقتورو په کمزورو باندې زور ازمائيل، وِيرول، دهړکې ورکول، د کمزورو حقونه خوړل، د جهالت د وخت تيارې دي ، زمونږ په معاشره کښې د کوم حده پورې خورې شوې دي، تولو ته به اندازه وي ◈ سندرې، سازونه، ميوزک

(***Music***) وغيره د جهالت تيارې دي، زمونږ په معاشره کښې دا عيب دومره عام شوے دے چې بعضې وخت په جوماتونو کښې هم ميوزيکل ټونز (***Musical Tunes***) اوريدے کيږي ◈ د بے حيايۍ والا شعرونه ليکل، د ځان سره وئيل د جهالت په وخت کښې عام وو، زمونږ په معاشره کښې هم عام دي، بعضې شاعران داسې بے هوده شعرونه ليکي، په ډک محفل کښې يې وائي، يوټيوب، فيس بُک وغيره ته د هغې ويډيوز (***Videos***) خيژوي، داسې د بے حيايۍ والا شعرونه---! که څوک حيا دار يې واوري نو غوږونو له به لاسونه يوسي، دا هم د جهالت د وخت تيارۀ ده ◈ شپيلي وهل، پړقې وهل د جهالت د وخت رواج دے، نن زمونږ کوم داسې محفل دے کوم چې د پړقو نه خالي وي؟ ◈ جواري کول د جهالت د وخت انداز دے، د الله پاک پناه! زمونږ په ملک کښې د جوارۍ څومره اډې دي، څومره خلقو د جوارۍ په وجه خپل کور کلے برباد کړے دے ◈ نسلي تعصب، په خپل پلار نيکونو باندې فخر کول د جهالت د وخت تيارۀ ده، نن څومره خلق دي کوم چې د نسل پرستۍ په بنياد فسادونه کوي ◈ سود د جهالت د وخت لعنت دے، نن زمونږ په معاشره کښې هم رائج دے بلکې زياتيږي ◈ کوډې منترې کول د جهالت د وخت خرابي ده، نن په هر يو کور کښې د کوډو منترو مسئلې موجودې دي-

غرض دا چې هغه کومه خرابي ده کومه چې د جهالت په زمانه کښې وه او اوس زمونږ په معاشره کښې نۀ کيږي---؟ بلکې دلته خو د جهالت دې رسمونو له د ترقۍ نوم ورکولے شي ◈ سُود ته پرافټ (***Profit***) وئيلے کيږي او حلال ګڼلے کيږي ◈ د سود لين دين يې د معيشت غوره والے ګڼلے دے ◈ شراب څښل فيشن جوړيږي ◈ بے

حیایي له د جِدت نوم ورکړے کیږي۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د ګناهونو د تیارو د ختمولو د پاره اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ کربلا ته تشریف وړے وو، دا ټولې خرابۍ یزیدیت دے خو مونږ د کربلا والا، ځان ته حُسَیني ویوونکي، ښه پۀ جوش او جذبه د حُسَیني لنګر پخوونکي، خوړونکي او تقسیموونکي، پۀ دې خرابو کښې اخته یو۔ د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ یاد نمانځل ښه خبره ده، حُسَیني لنګر پخول هم ښه، خوړل هم ښه، تقسیمول هم د ثواب کار دے خو عرض دا دے چې د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ موقف به څوک اِختیاروي؟ د هغوئي هغه مِشن د کوم د پاره چې هغوئي کربلا ته تشریف راوړلو، پۀ هغه مِشن باندې به څوک ځي؟ لږ غور خو اوکړئ! چې اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د یزید پۀ کوم خراب کردار خوشحاله نۀ شو نو که هغه کردار زمونږ هم وي ◈ کوم عادتونه چې د یزید وو، هم هغه شان عادتونه زمونږ هم وي ◈ لکه ښنګه ګنده اَخلاق چې د یزید وو، هم هغه شان زمونږ هم وي ◈ هم هغه د جهالت خرابۍ کومې چې یزید اِختیار کړې وې، هغه یې پۀ معاشره نافذ کولې، مونږ هم پۀ هغه خرابو کښې اخته یو نو آیا اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به زمونږ نه خوشحاله شي---؟ هیڅکله هم نۀ۔ ځکه ضروري دي چې مونږ رښتوني حُسَیني جوړ شو۔

## د بد بختۍ علامت

دا نننے سبق چې مونږ پۀ خپلو ذهنونو کښې، پۀ زړونو کښې پوخ کښېنوو چې ◈ زمونږ د ژوند معیار رسمونه نۀ دي ◈ زمونږ د ژوند معیار د غیر مسلمو طور طریقې نۀ دي ◈ زمونږ د ژوند معیار د معاشرې رویې نۀ دي بلکې د یو مسلمان د ژوند معیار د

رَبّ قرآن دے، د اِسلام نُور دے- اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ؕ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ۝ (پارہ: 6، سورۂ المآئدۃ: 50) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو آیا دوئي د جاهلیت حُکم غواړي، او یقین لرونکو د پاره د الله د حُکم نه بهتر د چا حُکم کیدے شي؟- |

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د دې آیت مبارک لاندې لیکلي دي: د زړۀ رُجحان د شریعت خِلاف کیدل شَقَاوَت (یعني د بد بختۍ) علامت دے او د پاک شریعت، د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّت طرف ته د زړۀ مائله کیدل د سعادت مندۍ نخښه ده- بد بخته اِنسان د جهالت په خبرو خوشحالیږي خو سعادت مند د هغې نه نفرت کوي- [1]

## د کامیاب ژوند د پاره 3 اَعمال

صوفیائے کرام فرمائي: په دُنیا کښې کامیاب ژوند هغه تیرولے شي څوک چې په دریو خبرو په مضبوطۍ سره عمل کوي: (1): په ځان او په خپلو تعلق لرونکو (مثلاً کور والؤ، دوستانو، خپلوانو) باندې د الله او د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حُکمونه جاري کړي (2): د ځان، د خپلو خپلوانو او د دوستانو د نفس په خواهشاتو پسې نۀ ځي (3): ژوند په اِحتیاط سره تیروي- دا دُنیا تیارۀ او خوئینده لاره ده، پکار دي چې زمونږ په یو لاس کښې د خوږ آقا

[1]... تفسیر نعیمی، پارہ:6، سورۂ مائدۃ، زیرِ آیت:50، جلد:6، صفحہ:480۔

و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لَمَن وي او پهٔ بَل لاس کښې د الله پاک قرآن وي، ګڼې پهٔ تیاره او خوئیندکه کښې به مونږ برباد شو۔ [1]

| | |
|---|---|
| اے دوستو! فرات کے پانی کا واسطہ | آلِ نبی کی تشنہ دہانی کا واسطہ |
| شبیر کے لہو کی روانی کا واسطہ | اَکبر کی ناتمام جوانی کا واسطہ |
| بڑھتی ہوئی جوان امنگوں سے کام لو | ہاں تھام لو حسین کے دامن کو تھام لو |

## شرمخان د چیلو ساتونکي جوړ شول

**پهٔ کتابونو کښې لیکلے شوي دي:** چې یو ځل د الله پاک نبي حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام چیلۍ څرولې، هغوئي پهٔ تللو تللو داسې وادۍ ته ورسیدو، چرته چې ډیر شرمخان وو۔ بیا معامله څهٔ داسې وشوه چې حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ستړے شو، خوب ورله ورغلو، بل طرف ته دا خطره هم وه چې شرمخان چیلو ته نقصان وه نهٔ رسوي۔ هیڅ فیصله نهٔ کیده چې څهٔ اوکړم؟ د ستړي والي پهٔ وجه یې سترګې پټیدلې، د چیلو حفاظت هم کول دي، بیا هغوئي د دې مسئلې حل دا راویستو چې د اِسمان طرف ته یې نظر اوکړو، د الله پاک پهٔ دربار کښې یې عرض اوکړو: اے کریم مالِکه! ستا عِلم هر څیز راګیر کړے دے، ستا اِراده نافذه ده، تا تقدیر لیکلے دے۔ دا یې ووئیل او هغوئي یو طرف ته څملاستو او ارام یې شروع کړو۔ کله چې یې سترګې وغړیدلې نو هُم شرمخانو د هغوئي د چیلو حفاظت کولو۔

---

[1]... تفسیر نعیمی، پارہ:6، سورۂ مائدۃ، زیرِ آیت:50، جلد:6، صفحہ: 481۔

ډير حېران شو، الله پاک هغوئي ته وحي وفرمائيله: كُنْ لِيْ كَمَا اُرِيْدُ اَكُنْ لَكَ كَمَا تُرِيْدُ يعنې اے موسیٰ! داسې شه! لکه څنګه چې زۀ غواړم، زۀ به ستا د پاره داسې معامله وفرمايم، کومه چې تۀ غواړې۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! وګورئ چې نن مونږ د پريشانو ښکار يو، غمژن يو، پۀ مشکلاتو کښې راګير يو، د دې ټولو حل څۀ دے؟ داسې شئ لکه څنګه چې د الله پاک رضا ده او د الله پاک رضا پۀ څۀ کښې ده؟ پۀ دې کښې چې مونږ د قرآنِ کريم مطابق ژوند تير کړو۔ څکه شريعت، سُنَّت، د قرآنِ پاک تعليمات خپل پيشوا جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ژوند به مو اسان شي، کامياب به هم شي۔

## قرآن زمونږ اِمام دے

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: اِنَّ الْقُرْآنَ شَافِعٌ وَمُشَفَّعٌ قرآنِ کريم شفاعت کوونکے دے او د دۀ شفاعت به قبولے هم شي فَمَنْ جَعَلَهٗ اِمَامَهٗ قَادَهٗ اِلَى الْجَنَّةِ څوک چې قرآنِ کريم خپل اِمام او پيشوا جوړ کړي، قرآنِ مجيد به هغه جَنَّت ته بوځي وَمَنْ جَعَلَهٗ خَلْفَهٗ سَاقَهٗ اِلَى النَّارِ او څوک چې قرآنِ مجيد شا ته وغورځوي، قرآنِ مجيد به هغه دوزخ ته ديکه کړي۔ (2)

درسِ قرآن جو ہم نے نہ بُھلایا ہوتا | یہ زمانہ نہ زمانے نے دکھایا ہوتا

---

[1]... حکايات و قصص من حياة السابقين، الحکاية:75، صفحه:100۔

[2]... مُصَنَّف عَبْدُ الرَّزَّاق، باب تعليم القران و فضله، جلد:3، صفحه:229، حديث:6030۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د کربلا درس دے چې مونږ قرآنِ کریم خپل پیشوا جوړ کړو، اِسلام چې مونږ ته کوم نُور راعطا کړے دے، پۀ هغې پسې روان شو، د جهالت د تیارو نه هر وخت بچ اوسو- الله پاک دې مونږ ټولو ته د دې توفیق راعطا کړي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د عِلمِ دین پۀ فیضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوت اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)- پۀ دې ایپلي کیشن کښې پۀ ګڼ شمیر د مذهبي (***Religious***) او معاشرتي (***Social***) پوښتنو لیکلي فتاویٰ ◈ د عقیدو پۀ باره کښې حکمونه ◈ د قرآن او حدیث پۀ باره کښې حکمونه ◈ د اوداسۀ، غسل او د ناپاکۍ حکمونه ◈ د نمونځ پۀ باره کښې مسئلې ◈ د مَړي پۀ باره کښې مسئلې ◈ د دعوتِ اِسلامي د مفتیانو صاحبانو اهم تربیتي او معلوماتي ویډیوکلپس او بیانونه ◈ پۀ معاشرتي او مذهبي اړخونو باندې د لار ښودنې مختلف آرټیکلز (***Articles***) او کتابونه ◈ د مفتیانو صاحبانو پۀ مختلفو علمي، تربیتي او شرعي معلوماتو مشتملې سلسلې ◈ تجارت کورس، د فرض علومو کورس ◈ او ډیر څۀ- دا ایپلي کیشن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ! پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان پهٔ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

# صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** پهٔ جومات کښې خیر غوښتل حرام او غوښتونکي له ورکول ګناه ده۔

**وضاحت:** نن سبا دا خبره عامه شوې ده چې پیشه ور سوالګري زیات شوي دي، عام طور د جَمعې نه پس فورا ودریږي، پهٔ تیز اواز سوال کول او ژړیدل شروع کړي، پهٔ دې باندې نـمونځ کوونکـو ته هم تـکـلیف وي او چا ته چې رکعتونه پاتې وي، هغوئي ته هم ګرانیدے شي۔ یاد ساتئ چې که څوک حقدار وي او که نهٔ وي، چا ته هم **پهٔ جومات کښې د خپل ځان د پاره غوښتل جائز نهٔ دي، حرام او ګناه ده او داسې خلقو له پهٔ جومات کښې ورکول هم مکروه او ناجائزه دي۔** [1] **پهٔ حدیثِ پاک کښې دي:** څوک چې پهٔ جومات کښې خپل ورک شوے څیز لټوي (مثلاً د هغې د پاره اِعلان کوي)، هغه ته وایئ: خُدائے دې کړي چې تا ته ستا څیز میلاوٗ نهٔ شي ولې چې جوماتونه دې کار د پاره نهٔ دي جوړ کړے شوي۔ [2] غور اوکړئ! چې پهٔ جومات کښې د خپل ورک شوي څیز اِعلان کول منع دي نو د نورو څیزونو غوښتل به څنګه صحیح وي؟ جوماتونه د خیر غوښتو د پاره نهٔ دي جوړ کړے شوي۔ دا سوالګري که خلقو ته د لاس نیولو پهٔ ځائے چا ته چې یـې سجده کړې ده د هٔغه رَبِّ رحمان نه وغواړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! جولۍ به یـې ډکې شي۔

---

[1]… درمختار، کتاب الصلاۃ، باب مایفسد الصلاۃ ومایکرہ فیہا، صفحہ:90۔

[2]… مسلم، کتاب المساجد ومواضع الصلاۃ، باب النھی عن نشد الضالۃ…الخ، صفحہ:208، حدیث:568۔

**اهم نوټ:** یاد ساتئ چې په جومات کښې د جومات د ودانۍ او ترقۍ د پاره، د مختلفو دِیني کارونو د پاره یا د اِمام او د خطیب او د مؤذِّن صاحبانو د خِدمت د پاره چې کومه چنده کولے شي، هغه جائز بلکې د ثواب کار دے، په جوماتونو کښې چنده راټولول د حدیثونو نه ثابت دي۔

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

## یَا رَشِیْدُ (اے هدایت ورکوونکیه!)

چا ته چې د یو کار د تدبیر پته نۀ وي نو هغه دې د ماښام او د ماسخوتن ترمینځه 1000 کرته یَا رَشِیْدُ ولولي اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! صحیح تدبیر به د هغۀ زړۀ ته راشي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... مَدَنی پنج سورہ، صفحه: 259۔